# په قانون ډول مجاز کډوال چې کولای شي پنسلوانيا کې کار وکړي
# د ARE لپاره په شرایطو برابر چې کولای شي د بېکارۍ د جبران لپاره درخواست وکړي



**د بیکارۍ جبران (UC) څه شی دی؟** د پنسلوانیا د UC پروګرام د هغو کارمندانو لپاره مؤقتي عاید چمتو کوي چې د هغو تېروتنو له امله خپلې دندې له لاسره ورکوي چې دوي نه دي ترسره کړې. دواړه، د PA ګومارونکي او کارمندان له امتیازاتو سره په دې موخه مالیې تادیه کوي چې له کارمندانو سره مرسته وکړي ترڅو هغوی خپل مصارف تامین کړي په داسې حال کې چې هغوی د نوو دندو په لټه کې دي.

**<u>د پنسلوانيا هغه کارمندان چې په متحده ایالاتو کې د کار کولو اجازه لري او د ARE په شرایطو برابر دي کولای شي د PA د بېکارۍ د جبران لپاره درخواست وکړي.</u>**

## آیا د بېکارۍ جبران به زما د مهاجرت پر وضعیت باندې اغېز وکړي؟

**نه:** د بېکارۍ جبران عامه امتیاز نه دی او د تابعیت، ویزې، او د متحده ایالاتو، یا قانوني دایمي هستوګنې په موخه د بیائلې داخلې لپاره (چې د ګرین کارت د وضعیت په نامه هم یادېږي)، په شرایطو ستاسو په برابرښت باندې اغېز ونکړي.

## آیا زه اړ یم چې د بېکارۍ د جبران لپاره د درخواست کولو لپاره د کار د اجازې ثبوت وړاندې کړم؟

**هو** تاسو کولای شئ د کار د اجازې هر ډول اسناد چې لرئ رنګه عکسونه یې د خپلې غوښتنې د برخې په توګه اپلوډ کړئ. یا کولای شئ خپل اسناد ژر تر ژره چې خپله ابتدايي غوښتنه ثبت کړئ UChelp@pa.gov برېښنالیک ته واستوئ. ځان ډاډه کړئ چې د خپل برېښنالیک د ځواب غوښتنه وکړئ ترڅو دا تایید کړو چې ستاسو اسناد ترلاسه شوي دي.



## زه په انګلیسي ژبه په خبرو کولو او لوستلو کې راحت نه یم. آیا څوک کولای شي مرسته راسره وکړي؟

**هو تاسو کولای شئ د تلفون له لارې یا په حضوري ډول د مرستې غوښتنه وکړئ.**

- تاسو کولای شئ د **UC د ایالت په کچه تلفوني کرښې ته په 1-888-313-7284 شمېره زنګ ووهئ** ترڅو له ترجمان او خپلې خوښې وړ کس سره د کنفرانسي اړیکې غوښتنه وکړئ، لکه د UC پلټونکی.
- **تاسو کولای شئ 855-284-8545 شمېرې ته په زنګ وهلو سره د UC اتصال مرستې لپاره حضوري ملاقات تنظیم کړئ** او د ملاقات لپاره د ترجمان غوښتنه وکړئ.
- تاسو همدارنګه کولای شئ د استماعیې په خبرتیا کې له درج شوې تلفوني شمېرې، برېښنالیک یا پتې څخه په استفادې سره د استماعیې لپاره د ترجمانۍ او ژباړې غوښتنه وکړئ.

**د UC لپاره د درخواست لپاره، https://benefits.uc.pa.gov/ ته مراجعه وکړئ یا 1-888-313-7284 ته زنګ ووهئ. که تاسو د اړتیا وړ مرستې په ترلاسه کولو کې ستونزه لرئ، تاسو کولای شئ 855-284-8545 ته زنګ ووهئ ترڅو حضوري ملاقات تنظیم کړئ، خپله غوښتنه ثبت کړئ یا د اوسنۍ غوښتنې اړوند مرسته ترلاسه کړئ.**